# ته: د SLPS کورنۍ: د 2022-2023 کلونو د کوویډ پروتوکول

*په مهربانۍ سره په یاد ولرئ چې زموږ د کوویډ په پروتوکول کې لاندې اصلاحات راغلي دي.*
*که چېرته تاسو کومه پوښتنه یا اندېښنه لرئ، په مهربانۍ سره د خپلې ودانۍ له مدیر سره اړیکه ونیسئ.*

## د مثبتو ببلګو په اړه راپور ورکول

هر زده کوونکی چې د ازمېښت پایله یې مثبته وي، باید د نښو نښانو له پیل یا له سواب ازمېښت څخه **لږ تر لږه تر 5 ورځو** لپاره یا له سواب ټېست څخه د اوسني CDC [د جلا والي لارښوونو](#)په تعقیب سره، په کور کې پاتې شي چې په دې کې یواځې په هغه صورت کې ښوونځي ته ستنېدل شاملېږي چې د 24 ساعتونو لپاره هېڅ نښې نښانې څرګندې شوې نه وي او له مثبت سواب څخه وروسته تر **10 ورځو پورې داسې مناسب ماسک واغوندي چې مخ یې په سمه توګه پوښي.**

د دې لپاره چې ناحیه د ودانۍ په کچه د مثبتو بېلګو اندازه وڅاري، په مهربانۍ سره همدارنګه د خپل زده کوونکي د مثبتې پایلې په اړه راپور ورکړئ.

**سره له دې چې د دې لپاره به هر راز هڅه وشي چې کار چمتو شي او ډاډ ترلاسه شي چې وروسته پاتې نشي، مګر سږ کال به زموږ په عادي درسي نصاب کې هېڅ مجازي یا کورنی جز موجود نه وي. په دې توګه به زده کوونکي د کوویډ د جلاوالي پر مهال د ازمېښت له مثبتې پایلې وروسته ناسوب وګڼل شي.**

## د کوویډ له خطر سره مخ کېدل

***په مهربانۍ سره د 2022-2023 کلونو د لارښود لپاره د دې مهم بدلون په اړه یادښت ونیسئ:***

که چېرته تاسو خبر شوئ چې له داسې شخص سره مو اړیکه لرله چې د کوویډ د ازمېښت پایله یې مثب ده، د پورته ذکر شوې مثبت پېښې پر خلاف، ***تاسو نباید دغه له خطر سره مخ کېدل ناحیه ته راپور کړئ.*** ناحیه تر دې وروسته داسې د اړیکې د څارلو کوم کورنی ډیپارټمنټ نه ساتي، نه CDC د اړیکې د څارلو یا قرنطین سپارښتنه کوي. که چېرته تاسو خبر یاست چې زده کوونکي مو له داسې شخص سره نږدې اړیکه لرلې ده/له خطر سره مخې شوی دی، د [CDC احتیاطي تدابیر](#)په پام کې ونیسئ چې په هغې کې له وروستي ځل خطر مخ کېدو څخه تر 10 ورځو پورې د مناسب ماسک اغوستل او د نښو نښانو څارل هم شامل دي.

ستاسو د معلوماتو لپاره، تاسو کولای شئ د تقویتي اړتیاوو په اړه اوسني معلومات د CDC پر وېب سایټ وموئ تر څو له واکسیناسیون سره [اپډېټ](#) پاتې شئ.

## د کوویډ نښې نښانې

هغه زده کوونکي چې له لاندې نښو نښانو څخه کومه یوه ولري، نشي کولای چې ښوونځي ته لاړ شي، مګر دا چې کوویډ منتفي شوی وي:
لړزه/رېږدېدل، د عضلاتو درد، د ستوني درد، د ذایقې یا بوی د حواسو له لاسه ورکول، تبه (100.4 یا تر دې لوړه)، یا ساه لنډي، ټوخی، د خېټې درد، اسهال. په مهربانۍ سره د نورو معلوماتو لپاره اوسني Student Symptom Decision Tree ته مراجعه وکړئ.

که چېرته ستاسو زده کوونکی نښې نښانې لري **او په ورته وخت کې یې د کوویډ د ازمېښت پایله منفي وي**، نو تر هغې چې په کافي اندازه د روغتیا احساس کوي، کولای شي ښوونځي ته لاړ شي، کېدای شي نښې نښانې له کوویډ پرته، له یوې غیر وبایي ناروغۍ سره اړوندې وګڼي او تبه ونلري.

**پروتوکول باید تعقیب کړئ، ان که تاسو باور لرئ چې ستاسو د ماشوم نښې نښانې له کوویډ پرته د کومې بلې ناروغۍ له امله وي، او ان که چېرته هغه واکسیني شوي وي + له تقویتي واکسین سره اپډېټ وي. کېدای شي کوویډ له نورو غیر وبایي ناروغیو څخه تقلید وکړي لکه حساسیتونه یا د سینوس عفونتونه او په دې توګه باید کوویډ په *ټولو* مواردو کې منتفي شي.**

که چېرته ستاسو زده کوونکی یو داسې جاري روغتیایي وضعیت لري چې په هغې کې کوویډ ته ورته نښې نښانې وي، په مهربانۍ سره د ښوونځي له مدیراو/ یا نرس سره مشوره وکړئ. هغوی به په ورته مهال د ډاکټر د یادښت استولو په اړه مشوره درکړي چې ستاسو د ماشوم نښې نښانې تشخیصوي، داسې چې هغوی به د کوویډ د منتفي کولو لپاره دوامداره ازمېښت کولو ته اړتیا ونلري.

## د ماسک کارول

SLPS د ماسک اغوستنې په اړه د [CDC د ټولو سپارښتنو](#) مطابق په دوامداره توګه د ماسک اغوستلو توصیه کوي، چې په دې کې د کوویډ د ټولنې لوړه کچه یا د لوړ خطر په کټګورۍ کې اوسېدل شامل دي. لکه څرنګه چې پورته وویل شول، ماسک باید همدارنګه (1) له داسې چا سره تر نږدې اړیکې وروسته چې د کوویډ پایله یې مثبته وي، یا یې پخپله (2) د کوویډ د ازمېښت پایله مثبته وي، تر 10 ورځو پورې واغوستل شي.

SLPS به د خطر د کمونې ټولګي او د ښوونځي په کچه د فردي جوړونې د مثبتو پېښو د نرخ پر اساس هڅې وکړي. په دې توګه، یو ځل بیا، ډاډ ترلاسه کړئ چې که چېرته ستاسو د زده کوونکي د کوویډ پایله مثبته وي، نو د ودانۍ مشرتابه ته خبر ورکړئ.

***مور ټول باید د خپل ښوونځي د چاپېریال په خوندي ساتلو کې خپله ونډه ترسره کړو. په مهربانۍ سره دغه پروتوکول جدي ونیسئ او راځئ ټول په ګډه د یوې ټولنې په توګه کار وکړو تر څو یو بل خبر او خوندي کړو.***